د امنیت شورا

وېش: عمومي
۱۷ مارچ ۲۰۲۲

# ۲۶۲۶ (۲۰۲۲) پرېکړه لیک

**د امنیت شورا له خوا د ۲۰۲۲ کال د مارچ پر ۱۷ نېټه د هغې په ۸۹۹۷ مه ناسته کې تصویب شو**

*د امنیت شورا*

د افغانستان په اړه د خپلو پخوانیو پرېکړه لیکونو په ځانګړي ډول د ۲۵۹۶ (۲۰۲۱) شمېره پرېکړه لیک *په یادولو سره* د ۲۰۲۲ کال د مارچ پر ۱۷ نېټې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) ماموریت تمدیدوي،

د هغه رول پر اهمیت په *ټینګارکولو* سره چې ملګري ملتونه یې په افغانستان کې سولې او ټیکاو ته په ودې ورکولو کې لوبوي،

د افغانستان د حاکمیت، خپلواکۍ، ځمکنۍ بشپړتیا، ملي یووالي، او دغه راز له افغان وګړو سره د خپل دوامدار ملاتړ لپاره د خپلې پیاوړې ژمنې په *بیا تاییدولو* سره،

*د دې په درک کولو* سره چې د اړوندو سیاسي، بشري او پراختیایي فعالینو ترمنځ، د ملګرو ملتونو د سیستم په د ننه او د باندې یوه ګډه او همغږې تګلار چې د هغوي له اړوندو ماموریتونو سره په تطابق کې وي، په افغانستان کې د سولې د رامنځ ته کولو او متدوام کولو لپاره خورا مهمه ده،

د یوه ټول شموله او ممثل حکومت د جوړولو پر اهمیت *په ټینګار کولو سره*، پر دې سربېره د ښځو د بشپړ، مساوي او محسوس ګډون، او د ښځو، ماشومانو او لږکیو د حقونو په ګډون د بشري حقونو د رعایتولو پر اهمیت له ټینګار کولو سره،

د خوړو د نه خوندیتوب په ګډون په افغانستان کې د سخت اقتصادي او بشري وضعیت په اړه د خپلې ژورې اندېښنې *په ښکاره کولو*، او د دې *په بیا یادولو سره* چې ښځې، ماشومان او لږکي په نا متناسب ډول اغیزمن شوي، د هغې اړتیا *په درک کولو سره* چې د هغو دوامدارو ننګونو په حل کې مرسته وشي له کومو سره چې د افغانستان اقتصاد مخ دی، د بانکي او مالي سیستمونه د بېرته فعالولو د هڅو په ګډون څو د افغان وګړو په ګټه د افغانستان په مرکزي بانک پورې د اړوند شتمنیو د کارونې لپاره زمینه برابره شي او له ۲۶۱۵ (۲۰۲۱) شمېره پرېکړه لیک او په دې برخه کې د ملګرو ملتونو د همغږۍ له مهم رول سره په سمون کې هڅې غښتلې شي څو هغه بشري مرستې برابرې کړې کومې چې په افغانستان کې د بنسټیزو بشري اړتیاوو په تامینولو او پوره کولو کې مرسته کوي، او د دې پر ټینګار کولو چې د بشري مرستو موثره رسونه ایجابوي چې ټولې فعالې خواوې، د ښځو په ګډون د بشري مرستو د ټولو پرسونلو، د ملګرو ملتونو

ادارو، نړیوالو او داخلي نا دولتي سازمانونو او د بشري مرستونو د نورو فعالینو لپاره د بشپړ، خوندي او خنډ پرته بشري لاس رسي لپاره زمینه برابره کړي،

د ښځو او نجونو د وضعیت، په عامه ژوند کې د هغوي پر ګډون د محدودیتونو د وضع کولو، او د هغوي حقونو ته د درناوي د له منځه وړلو په ځانګړي ډول زده کړو، اقتصادي فرصتونو، عدالت او نورو خدمتونو ته د هغوي د نا مساوي لاس رسي په اړه د خپلې جدي اندېښنې *په ښکاره کولو سره*،

د دې *په منلو سره* چې د ټولو افغانانو مدني، سیاسي، ټولنیزو، اقتصادي او فرهنګي حقونو ته د درناوي تقویه کول د خورا مهم اهمیت درلودونکي دي او دغه راز له هغو شرایطو سره مرسته کوي کوم چې په افغانستان کې د پایښت لرونکې پراختیا د رامنځ ته کولو لپاره اړین ګڼل کېږي،

په افغانستان کې د امنیتي وضعیت په ځانګړي ډول د ښځو، ماشومانو، بېځایه شویو وګړو، لږکیو او د بشري مرستو د کارمندانو په ګډون د ولسي وګړو لپاره، دغه راز د ځمکنیو ماینونو، د لاس جوړ چاودېدونکو وسیلو او له جګړې څخه د پاتې شونو چاودېدونکو توکو د شتون، او په هیواد کې د بشرپالنې له نړیوال قانون څخه د راپور شویو یو شمیر جدي سرغړونو او پر بشري حقونو د تېریو په اړه د خپلې ژورې اندېښنې په *ښکاره کولو*، او د تاوتریخوالي د راکمولو په پار او دا چې د دغو سرغړونو عاملین باید د قانون منګولو ته وسپارل شي، د دوامدارو هڅو پر اهمیت په *ټینګار کولو* سره،

د هغو افرادو په ګډون چې د امنیت شورا د کمېټې له خوا د ۱۲۶۷ (۱۹۹۹)، ۱۹۸۹ (۲۰۱۱) او ۲۲۵۳ (۲۰۱۵) شمېره پرېکړه لیکونو له مخې په ګوته شوي، په افغانستان کې له تروریزم سره د مبارزې اهمیت د *بیا تاییدولو* سره، او له دې څخه د ډاډ په ترلاسه کولو سره چې د افغانستان خاوره نه باید د دې لپاره وکارول شي چې بل هیواد وګواښل شي یا وربانديې برید ترسره شي، تروریستي کړنې پلان یا تمویل شي، یا تروریستانو ته پناه او روزنه ورکړل شي او دا چې هیڅ افغان ډله یا فرد نه باید د بل هیواد پر خاوره د فعالیت کوونکو له نورو تروریستانو سره مرسته وکړي،

په افغانستان کې د ناقانونه نشه يي توکو پر کرنه، تولید، سوداګرۍ او قاچاق د اندېښنې په *څرګندولو* سره کوم چې لا اوس هم په سیمه کې او له هغې هاخوا سوله او ټیکاو له ګواښ سره مخ کوي، له دغه ګواښ سره د مبارزې په پار له دولتونو د نړیوالې او سیمه ییزې همکارۍ د غښتلي کولو په *غوښتنې سره*، او په دې زمینه کې له نشه يي توکو او جرمونو سره د ملګرو ملتونو د مبارزې د دفتر د مهم رول په *درک کولو* سره،

۱. د سرمنشي د ۲۰۲۲ کال د جنوري د ۲۸ نېټې د راپور(S/2022/64) *هرکلی کوي*؛

۲. له افغان وګړو سره د ملګرو ملتونو د ملاتړ د اوږد مهالې ژمنتیا لپاره *خپله قدرداني څرګندوي* او یو ځل بیا د یوناما له کار او د سرمنشي له ځانګړي استازي سره د خپل ملاتړ *یادونه کوي*، او د دوامدار ساحوي شتون پر اړتیا ټینګار کوي؛

۳. د سپارل شویو دندو، او لومړیتوبو په تطبیق کې د یوناما د روانو هڅو *هرکلی کوي*؛

۴.	پرېکړه کوي چې د ۲۰۲۳ کال د مارچ تر ۱۷ نېټې پورې د یوناما ماموریت لکه څرنګه چې یې پخوا په خپلو ۱۶۶۲ (۲۰۰۶)، ۱۷۴۶ (۲۰۰۷)، ۱۸۰۶ (۲۰۰۸)، ۱۸۶۸ (۲۰۰۹)، ۱۹۱۷ (۲۰۱۰)، ۱۹۷۴ (۲۰۱۱)، ۲۰۴۱ (۲۰۱۲)، ۲۰۹۶ (۲۰۱۳)، ۲۱۴۵ (۲۰۱۴)، ۲۲۱۰ (۲۰۱۵)، ۲۲۷۴ (۲۰۱۶)، ۲۳۴۴ (۲۰۱۷)، ۲۴۰۵ (۲۰۱۸)، ۲۴۶۰ (۲۰۱۹)، ۲۴۸۹ (۲۰۱۹)، ۲۵۴۳ (۲۰۲۰)، ۲۵۹۶ (۲۰۲۱) شمیره پریکړه لیکونو او په لاندې ۵ پاراګراف کې مشخص شوی، تمدید کړي.

۵.	پر دې سربېره پرېکړه کوي چې پر لاندې طرح شویو لومړیتوبونو له ځانګړي تمرکز سره، یوناما او د سرمنشي ځانګړی استازی به د اړتیا سره سم د اړوندو چارواکو په ګډون د ټولو اړوندو افغان سیاسي فعالینو او شریکبانو سره په نږدې سلا مشوره کې پر یوه داسې طریقه چې له افغان خپلواکۍ، مشرتابه او مالکیت سره په سمون کې وي، د خپل ماموریت پر مخ وړل جاري وساتي:

(الف)	د بشرپالنې د نړیوال قانون په ګډون له نړیوال قانون سره په تطابق او د بشرپالنې له اصولو سره په سمون کې د بشري مرستو او مالي منابعو برابرونه همغږې او تسهیل کړي، څو د ۲۶۱۵ (۲۰۲۱) شمېره پرېکړه لیک په پام کې نېولو سره د بشري فعالیتونو ملاتړ وکړي، او په ټول افغانستان کې د چارو همغږي او همکاري پیاوړې کړي، له ټولو قومي ډلو سره د هیواد په ټولو سیمو کې د ښځو، ماشومانو، بېځایه شویو وګړو، لږکیو او معلولیت لرونکو کسانو په ګډون د اړمنو کسانو په ملاتړ د بشري او پراختیایي ادارو او د دواړو ښځینه او نارینه پرسونلو له خوا هر ډول فعالیتونو ته د لاس رسي د ښه کولو لپاره کار وکړي، همدارنګه له هغو هڅو ملاتړ وکړي چې د خپلې خوښې، خوندي، له درناوي ډکې او پایښت لرونکې راستنېدنې او د بېځایه شویو وګړو او کډوالو وګړو د ادغام لپاره مناسب شرایط رامنځ ته کوي، په داسې حال کې چې په دې برخه کې د نورو اړوندو ادارو د هڅو د غیر ضروري دوه ګونې کېدو د مخنیوي لپاره ګامونه پورته کوي؛

(ب)	د ۲۶۱۵ (۲۰۲۱) شمېره پرېکړه لیک په پام کې نېولو سره د معلوماتو د شریکولو له لارې د بنسټیزو بشري اړتیاوو په تړاو نړیوال مرستندویان او سازمانونه همغږي کړي، د ټولو اړوندو افغان شریکبانو، سیمې او په پراخه کچه د نړیوالې ټولنې ترمنځ د پالیسي ډیالوګ طرح کول تسیهل کړي، له تبعیض پرته د مرستو د کارونې د احتساب، روڼتیا او اغیزمنتوب د زیاتولو په پار د مرستو ملاتړ وکړي، د بنسټیزو بشري اړتیاوو د تامین او مقاومت د زیاتولو په پار د ټولنې پر بنسټ له سیستمونو سره مرسته وکړي، افغان وګړو ته د اړینو خدمتونو په برابرونه کې او د اقتصادي او ټولنیزو شرایطو په رامنځ ته کولو کې مرسته وکړي کوم چې کولی شي د ځان بساینې او ټیکاو لامل شي، او له ټولو اړوندو شریکبانو او نړیوالو مالي ادارو سره کار جاري وساتي څو په افغانستان کې سوداګریزې او مالي چارې تسهیل کړي او له هغو هڅو ملاتړ وکړي چې د افغان وګړو په ګټه د افغانستان په مرکزي بانک پورې اړوند شتمنیو ته لاس رسی تسهیل‌وي؛

(ج)	د جنسیت، دین/مذهب یا قومیت پر بنسټ له هر ډول تبعیض پرته، د ښځو، لږکیو، ځوانانو او معلولیت لرونکو کسانو له بشپړ، مساوي او موثر ګډون سره، په ملي او ځایي کچو ټول شموله، ممثلې، مشارکتي او ځواب ویونکې حکومتولۍ ته پر ودې ورکولو له تمرکز سره د ټولو اړوندو افغان سیاسي فعالینو او شریکبانو، سیمې او په پراخه کچه د نړیوالې ټولنې ترمنځ د پالیسي ډیالوګ د طرح د تسیهلولو

په ګډون د پوهاوي او ښه نیت چارې برابرې کړي، د ټولشموله ملي او ځايي مشورتي میکانیزمونو، همدارنګه د باور جوړونې تدابیرو، ظرفیت جوړونې، د شخړو د مدیریت او پخلاینې په اړه سلا مشورې برابرې کړي؛

(د) د انتقالي عدالت، د وچکالۍ د ناوړه اغیزو په ګډون د سیاسي، امنیتي، ټولنیزو او اقتصادي تحولاتو د څارنې او راپور ورکونې په ګډون مسوولې حکومتولۍ او د قانون واکمنۍ ته وده ورکړي، د تحلیلي ملاتړ او بندیزونو د څار ټیم کوم چې د ۱۵۲۶ (۲۰۰۴) شمیرې پرېکړه لیک د ۷ پاراګراف له مخې جوړ شوی له اړتیا سره سمه مرسته برابره کړي، په ټول هیواد کې امنیتي ډینامیکونه وڅاري او تحلیل کړي، د غیر مشروع اقتصاد د یوه غوره پوهاوي په ګډون د سیاسي اقتصاد اړوند شننه ترسره کړي، هر اړخیز تحلیل ترسره او له ټولو اړوندو افغان فعالینو، د مدني ټولنې له استازو او نورو شریکبانو سره اړیکې ټینګې کړي څو د عامه چارو په ترسره کولو کې سیاسي ټول شمولیت او پراخ ګډون ته وده ورکړي، او د قانون د واکمنۍ په تړاو تحولات او پرمختګونه تحلیل او په اړه یې راپور ورکړي؛

(هـ) د ټولو افغانانو د بشري حقونو په ساتنه او هغوي ته په وده ورکونه کې په ملي او ځايي کچو له ټولو شریکبانو، مدني ټولنې او نړیوالو نا دولتي ادارو سره دخیل شي، د ولسي وګړو وضعیت، د جنسي او جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالي د مخنیوي او هغه ته د ځواب ویلو پر قرباني د متمرکزې کړنلارې په ګډون د تاوتریخوالي مخنیوی او له منځه وړل، د شکنجې مخنیوی او منع، له توقیف ځایونو څارنه او د توقیفیانو حقونو ته د ودې ورکول وڅاري، د هغوي لپاره مدافعه وکړي او په اړه یې راپور ورکړي، او همدارنګه مدني، سیاسي، ټولنیزو، اقتصادي او فرهنګي حقونه وڅاري او په اړه یې راپور ورکړي څو له هغو هڅو ملاتړ وکړي چې یې وزلي راکموي، له ټولنیز همغږیتوب سره مرسته کوي، د قربانیانو د حقونو او د مدني تعامل ملاتړ کوي، د بشري حقونو او بنسټیزو آزادیو په تړاو له افغانستان سره د هغو حقوقي اسنادو د احکامو په تطبیق کې مرسته وکړي او په اړه یې سلا مشورې ورکړي چې افغانستان یې غړیتوب لري او د هغوي پر رعایتولو مکلف دی، لکه د ښځو په وړاندې د تبعیض د ټولو شکلونو د له منځه وړلو کنوانسیون، د اړینو عامه خدمتونو، عادلانه محاکمو او عدالت او هغوي ته د مساوي لاسي د برابرولو لپاره مدافعه وکړي، او څرنګه چې مناسبه وي د بشري حقونو د نړیوالو معیارونو په اړه موظفینو/مسوولینو ته تخنیکي سلا مشورې برابرې کړي؛

(و) د یوې هر اړخیزې موضوع په څېر د خپل ماموریت په تطبیق کې د جنسیت تعمیم شامل کړي، د جنسیت له برابرۍ، د ښځو او نجونو د ځواکمنتیا او د زده کړو په ګډون د هغوي د بشري حقونو د بشپړې ساتنې، له ۱۳۲۵ (۲۰۰۰) او نورو اړوندو پرېکړه لیکونو سره په سمون کې د پرېکړې کولو په ټولو کچو او پړاونو کې د ښځو د بشپړ، مساوي، موثر او خوندي مشارکت، تعامل او رهبرۍ ملاتړ وکړي او وده ورکړي، او د ښځو له مختلفو ادارو او شبکو سره تعامل وکړي، همدارنګه د هغو کسانو په اړه چې بشري حقونه ساتي او وده ورکوي، ژورنالستانو، د روغتیايي او بشري مرستو د کارمندانو او همدا راز د هغو کسانو چې پخوا له حکومت، پولیسو، عدلي او امنیتي سکتور سره تړلي وو په ګډون، او په مشخص ډول د ښځو پر ضد د ترسره شویو تیریو او ناوړه چلند پېښې وڅاري او راپور کړي؛

(ز) د ماشومانو په وړاندې سرغړونې او تیري وڅاري او په اړه یې راپور ورکړي، او د هغو هڅو ملاتړ وکړي چې د ماشومانو او وسله والې جګړې په اړه د سرمنشي د راپور (A/75/873-S/2021/437) په ضمیمو کې د لیست شویو خواوو سره د تعامل له لارې د ماشومانو ساتنه غښتلې کوي څو مشخصې ژمنې او تدابیر ترسره شي چې د ماشومانو په وړاندې سرغړونې او تیري پای ته ومومي او مخه یې ونیول شي؛

(ح) د ټیکاو او سولې د ودې او همدارنګه له افغانستان سره د آسیا زړه له رول څخه په ګټه اخیستلو کې د مرستې کولو په موخه چې د روڼتیا، پرانستوب او ټول شمولیت پر بنسټ سیمه ییزې همکارۍ او نښلون ته وده ورکړي، له سیمه ییزې همکارۍ سره مرسته وکړي، د هغو ګډو هڅو هرکلی کوي چې ډیالوګ او همکاري غښتلي کوي او په ټوله سیمه کې د اقتصادي پراختیا ګډې موخې پر مخ بیايي، او په سیمه کې د هیوادونو او سازمانونو له خوا یوه همغږې شوې تګلار تسهیلوي چې له یوه با ثباته او ښېرازه افغانستان سره مرسته وکړي؛

(ط) د مرستو د منحرف کېدو د خطرونو په ګډون دغه پرېکړه لیک له ۵ (الف) او ۵ (ب) پاراګرافونو سره په سمون کې د ملګرو ملتونو له خوا له افغانستان سره د همغږې شویو مرستو په تړاو د خطرونو د څارنې، شننې او ودې په ګډون په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د خطر د مدیریت عمومي تګلار همغږې کړي؛

(ی) د خپل ماموریت په د ننه کې له موجوده میکانیزمونو سره مرسته وکړي څو په افغانستان کې عمومي امنیتي وضعیت ښه کړي، د ماشومانو په ګډون پر ولسي وګړو له جګړې څخه د پاتې شونو چاودېدونکو توکو د ګواښ ارزونې برابرې کړي، د بشري مرستو او پراختیايي نوښتونو په ملاتړ کې د چاودېدونکو توکو د خطر د راکمولو په اړه سلا مشورې ورکړي او همغږې کړي، د ماین پاکۍ سکتور له همغږۍ سره مرسته وکړي، د هغو سیمه ییزو او نړیوال هڅو ملاتړ وکړي چې افغانستان او سیمې ته د وړو او سپکو وسلو د ناقانونه سوداګرۍ او د هغوی بې ثباته کوونکې تراکم انحراف مخه ونیسي او رسیدګي ورته وکړي؛

۶. په ټول افغانستان کې د یوناما او د ملګرو ملتونو د نورو ادارو، وجهي صندوقونو او پروګرامونو د دوامدار شتون پر خورا مهم اهمیت ټینګار کوي، او اړوندو چارواکو په ګډون پر ټولو اړوندو افغان سیاسي فعالینو او شریکبانو او دغه راز نړیوالو فعالینو غږ کوي چې له یوناما سره د هغې د ماموریت په تطبیق کې همکاري وکړي چې په هیواد کې د ملګرو ملتونو او له هغوی سره د تړلو پرسونلو امنیت او د خوځښت آزادي ډاډمنه کړي؛

۷. د دې غوښتنه کوي چې سرمنشي دې د افغانستان د وضعیت او د ځايي کچې په ګډون د یوناما د ماموریت د تطبیق په اړه شورا ته په هرو دریو میاشتو کې راپور ورکړي؛

۸. پرېکړه کوي چې د موضوع په اړه ځان په فعال ډول با خبره وساتي.